# <u>مطبوعاتي اعلامیه</u>

## د غرب د سیاسي مفکورې پر بنسټ تازه جوړ شوی افغاني جوړښت به د مسلمانانو لپاره نه، بلکې د امریکا لپاره بریا وي، چې د باجوه ـ عمران رژیم یې اوس د دغه استعماري پلان پر اسانتیاوو برابرولو بوخت دی

پرېږدئ چې مسلمانان د امریکا د تازه افغاني جوړښت د پلان جوړولو په اړه له اوسنیو پرمختګونو خبر شي. د ۲۰۲۰م کال، د اګست په ۷مه، د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو ټوېټ وکړ: «نن مې د پاکستان د بهرنیو چارو له وزیر شاه محمود قریشي سره د افغانستان د سولې په اړه د همکارۍ د دوام او د سیمه ییز ثبات د ملاتړ پر ارزښت ګټورې خبرې وکړې. زه د خپلو ګډو اهدافو او همکاریو د ډېروالي هیله لرم.» په هر صورت، هغه څوک چې سیاسي پوهاوی لري د «افغان سولې» او «سیمه ییز ثبات» په تشو شعارونو ورکولو سره نه دوکه کېږي. د پمپیو شعارونه پر سپینو زرو د پوښل شوو جامونو مثال لري، چې د نوي افغاني جوړښت د استعماري پلان لپاره وژونکي زهر لري چې د لویدیځ د سیاسي افکارو پر بنسټ ولاړ دي. په اسلامي نړۍ کې، د لویدیځ تر ټولو ستراتیژیکه ګټه د بشر د حاکمیت پر اساس سیاسي جوړښت دی، چې د دولت ـ ملت وېشونکی تصور پکې شامل دی، د ډموکراسي له لارې د انساني حاکمیت پر اساس په سمه توګه د قانون نه جوړول، د فساد پر اساس ازاد ټولنیز نظام، غربي خپلواکي، په اقتصادي نظام کې استملاک کوونکې پانګونه، د غربي ګټو په چوکاټ کې د غرب د قضایه قوې غیر قانوني او فاسده بهرنۍ پالیسي د ویستفیلیا له ایډیالوژۍ څخه سرچینه اخلي.

په اسلامي امت کې، غرب د خپل سیاسي جوړښت د مشهوره کولو لپاره، حتی د اسلامي اصطلاحاتو نه هم ګټه پورته کوي. له تاریخي پلوه، د دې ستراتیژیکې ګټې د خوندي کولو لپاره، برتانیایان او فرانسویان ورو ورو د اسلامي نړۍ څخه خپل ځواکونه وباسي، ځکه چې د تېرې پېړۍ د څلوېښتو او پنځوسو کلونو په لسیزو کې یې په اسلامي نړۍ کې په بریالیتوب سره خپل نظام نصب کړ. په اسلامي نړۍ کې د غربي نظام له دوام څخه ٦٠ او ۷۰ کلونه وروسته هم دوی خپلواک نه شول. نن ورځ، امریکا په افغانستان کې له همداسې استعماري تګلارې څخه ګټه اخلي. امریکا ډاډ ورکوي چې د افغانستان ثبات په افغانستان کې د امریکایي اجنټانو او د غرب سیاسي جوړښت سره د واک شریکول دواړه د اسلام د دین له هوکړې سره مني. د امریکا د پلان اسانه کولو لپاره، د پاکستان واکمنان د افغان مقاومت پر وړاندې د «ګاذر او لرګي» پالیسي پلې کوي، تر څو دوی دې ته اړ کړي چې د خبرو مېز ته کښېني. د پاکستان د اوسني مشرتابه او د ISPR د ویاند په شمول یې په پر له پسې توګه، د دې ناوړه رول کرېډېټ پر غاړه اخیستی دی.

په حقیقت کې، د افغانستان د تازه جوړښت رامنځ ته کېدل د مسلمانانو لپاره یو لوی خطر دی. ولې د اسلام دښمنان د ۵۰۰۰ خطرناکو وسله والو د خوشي کېدلو هرکلی کوي؟ ولې هغه کسان چې د اسلام د پلې کولو لپاره يې د مرمیو، ډرون او B- 52 پر وړاندې کلک ولاړ وو، اوس د «بین الافغاني خبرو اترو» او اوربند لیوالتیا لري؟ د امریکایي اجنټانو سره د قدرت شریکول د شریعت واکمنۍ ته مرگ دی. دا د خبرو اترو په چوکاټ کې امریکا بریا ته رسوي. چې هغوی هېڅکله د جگړې په ډگرونو کې نه شوای تر لاسه کولای. د ښه نیت په پام کې نیولو پرته، دا د هغو سلگونو شهیدانو له وینو سره خیانت دی، چې په تېرو څلورو لسیزو کې یې د بهرني اشغال پر وړاندې خپله وینه تویې کړې ده. امریکا غواړي افغانستان د خپل نړیوال نظم په جال کې راگیر کړي، تر څو وکولای شي د خصوصي مرستې او نظامي هگۍ په خپله بټۍ کې د امنیت د مرستې په نوم ځای پر ځای کړي او په پراخه کچه معدني سرچینو ته خوراکي توکي د بهرنۍ مستقیمې پانگونې تر نوم لاندې ورسوي.

د پاکستان او افغانستان د مسلمانانو لپاره لازمه ده چې د افغاني سولې پلان رد کړي. د پاکستان د وسله والو ځواکونو او استخباراتو لپاره هم لازمه ده چې په پاکستان کې د نبوت پر منهج د خلافت د بیا تاسیس لپاره د نصرت په برابرولو سره د دې استعمار دسیسه شنډه کړي. بیا به پاکستان او افغانستان د اسلام تر سیوري لاندې یو ځای شي، چې د پېړیو راهیسې اسلامي، کلتوري او تاریخي اړیکې لري. بیا خلافت کولای شي د منځني ختیځ، منځنۍ اسیا او له هغې هاخوا مسلمانانو سره د یو ځای کېدلو لپاره په ټولیزه توگه امت غښتلی کړي، چې د کشمیر او فلسطین ازادۍ ته به لاره هواره کړي او موږ ته به په دنیا او اخرت کې بریا را په برخه کړي. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**[يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تَنصُرُوا اللَّهَ يَنصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ]**

**ژباړه:** *«اې مومنانو که تاسې د الله سبحانه و تعالی د (دین) سره مرسته وکړئ، نو هغه به ستاسې سره مرسته وکړي او ستاسو قدمونه به کلک کړي.»* [محمد: ۴۷]

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۱ هـ.ق کال، د ذوالحجې ۲۱مه**

**۲۰۲۰م کال، د اگست ۱۱مه**

**د صدور گڼه: ۸۷/۱۴۴۱**